سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۱/۱۵

وحشت

نه پوهېږمه چې ولې
په دې واړه دنیاګی کې
زموږ په ځاله اور نښتی
هره ورځ په بې ننګی
د ننګونو په نوم مرو؛ خو
ښاد، اباد او ارام توري
لا زمونږ تقدیر کې نشته
ښه لړزیږو په غمو کې
د جهان واړه دردو کې
د زخمیانو پرهرو کې
د شهیدو جسدو کې
د یتیمو اسوېلو کې

نه پوهېږمه چې ولې
په دې واړه دنیاګی کې
زموږ په ځاله اور نښتی
هر دېوال مو وینې - وینې
هر یو کور مو ویر لړلی
هر مکتب مو شهید شوی
هر جومات مو بې محرابه
هر ممبر مو بې خطیبه
هره پېغله مو بې وسه
د ورک شوي چنغل یاد کې
لا تر ننه هم په طمعه
تور وېښته یې نور سپین شوي

نه پوهېږمه چې ولې
په دې واړه دنیاګی کې
زموږ په ځاله اور نښتی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د چا زړه راباندې نه سوي
لا مو نور سوځول غواړي
له دنيا ورکول غواړي
په قبرو خښول غواړي
جنازو ته انتظار دي
جسدو ته په چکچکو
شهيدانو ته خنديږي
په ماشوم مو لا بند نه دي
لوپټو ته هوسيږي

نه پوهيږمه چې ولې
په دې واړه دنياګۍ کې
زموږ په ځاله اور نښتی
د بې رحمو قاتلانو
منځ کې ولې را حصار يو
د يوه زړه نه يخيږي
په تودو وينو ګرميږي
لا جوشيږي، تياريږي
چې يو بل ناورين را وکړي
او يو بل وحشت را ګډ کړي
څه به دا وطن اباد شي
لا به دوی هم انسانان شي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ